ډاکټر لمر افغان ۲۴/۰۴/۲۰۱۲

# د شمال ټلوالې تینکتې او د بهرنیو غلیمانو اندېښنې

امریکایي ځواکونه او د هغوی نظامي ملګري د تېښتې په درشل کې خپلې پلمې لټوي او لکه چې وایې ځانه ته د «بیني خمیري» د جوړولو په لټه کې دي، چې په کوم چل او نیرنګ له افغانستانه پښې سپکې کړي او له خپل تګ سره سم د ځان لپاره د منلو وړ او امریکا ته د ژمن دولت د جوړولو او راتګ په هڅه کې دي، چې یو شمېر "افغانستاني" سیاستوال یې هم رابوړنولي دي، چې کله په افغانستان کې او کله هم په بهر کې د افغانستان د وېشلو یا له منځه وړلو هڅې پکې په نېغه رابرسېره کېږي، چې د افغان ولس ماغزه په یوه او بله بڼه مشکوکوي.




تاسوته څرګنده ده، چې څو میاشتې مخکې د شمال ټلوالې څو کرغېړنو څېرو د جرمني په برلین ښار کې د خپلو امریکایي بادارانو او صلیبي خواخوږو په ګډون یوه غونډه رابللې وه، چې ګواکې د افغانستان ریاستي سیستم دې په پارلماني واوړي، والیان دې په سیمو کې د سیمې د خلکو لخوا وټاکل شي او افغانستان دې فدرالي شي، چې نن سبا یې بیا په افغانستان کې دغه نادره راژوندۍ کړې ده. افغان چارواکو له امریکا نه شمال ټلوالې ته راغلی ډانا روهرا بکر، چې په سیمه کې د قومي شخړو، د سیمې د خلکو د تباهي او د افغانستان د وېشلو پلوی دی، له دوبی یې کابل ته پرېښود، خو څو تنه نورو چوکړه ګانو یې د شمال له ټلوالې سره وکتل او هغوی یې په دې ډاډه کړل، چې ګواکې لکه سپیو غونډې به یې د «سګ جنګیو میدان ته» ورخوشې کړي، چې خپل ملت وداړي او افغان ولس لکه نویمو کلونو غونډې بیا په وینو کې ولمبوي.
څه موده مخکې جنرال عبدالرشید دوستم له خپلو ۲۰۰ ملګرو سره مکې معظمې ته د عمرې حج په پلمه تللی وو. له راتګ سره یې سم په مزار شریف کې غونډه جوړه کړه او په غونډه کې یې له طالبانو سره سوله ییزې خبرې تأیید کړې. جنرال دوستم په خپلو څرګندونو کې سوله او پخلاینه د افغانستان د ستونزو یواځینۍ لاره وبلله. جنرال رشید یاده کړه چې د سولې لپاره به د مجاهد ملا محمد عمر په غاړه کې د ګولونو ګېډۍ واچوي او د سولې لاس به ورکړي، خو دغه جناب یو شی له هېره ایستلې دي، هغه دا چې د ښاغلي عبدالرشید دوستم ځواکونو د مزار په جنګي قلا، د مزار- شبرغان په لویه لار او د لیلا په دښته کې په لسهاو زرو تسلیم شوي طالبان، سیمییز مشران او بې وزله ځوانان ووژل او تری تام یې کړل، چې افغان ولس یې د وېر په ټغر کېناوه او ملت یې په وینو کې ولمباوه. پوښتنه دا ده، چې آیا جنرال دوستم په دې فکر نه دی کړی، چې لکه د طالبانو د بل قاتل جنرال داود داود په سرنوشت به آخته شي، چې نن یا سبا به د مرګ څکه وکړي! په بهر کې خو اوزبکستان او ترکیې له خپل ملکه ځواب کړی او په ترکمنستان کې خو یې هسې هم نه پرېږدي، ځکه په خپلو ملېشو یې ډېر ترکمن مشران وژلي دي او د اکبر بای کیسې لا په ولس کې ژوندۍ دي!
د مرحوم احمد شاه مسعود ورور ښاغلی ضیا مسعود هم نن سبا په یو او بل ځای کې خلکو ته ټینکتې کوي، چې ګواکې په نننۍ حکومت کې د طالبانو مخکني مشاورین واک چلوي او یا وایي چې د طالبانو د انګرېزي ژبې ترجمانان اوس په افغانستان کې واکمن دي او یا د امریکایي او لوېدیزوالو د تېلو د کمپنیو مشاورین دي چې نن دلته واکمن دي او یا هم طالبانو ته اوسمهال هم ورونه وایي! ښاغلی مسعود خپلې ټینکتې نورې هم پسې اوږدوي او یادوي چې ګواکې نننی حکومت یا دولت لاسپوڅی دی، خو ښاغلي ضیا مسعود لکه چې هېره کړې ده، چې څه موده مخکې دی یعنې ښاغلی ضیا مسعود په افغانستان کې د امریکایانو تر څارنې، لارښوونې او لاسوهنې لاندې د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

افغانستان د جمهور رئيس لومړی مرستيال وو او يا دا چې د ضيا مسعود خوسر مرحوم برهان الدين رباني د سولې د شورا رئيس نه وو او يا هم دا چې په نننۍ دولتي سيستم کې د ښاغلي ضيا مسعود پخواني ملګري لکه (جنرال فهيم، يونس قانوني او يو شمېر نور) لوړ پوړي چارواکي او يا د ولسي جرګې غړي واکمن نه دي؟ دا خو ټولو ته څرګنده ده، چې دغو لوړ پوړو چارواکو اوښاغلي ضيا مسعود په څه ډول افغان ولس لوټ کړ او څنګه يې چور او چپاول نښلولی دی، خو نن بيا لکه مرور ماشوم په خپل بادار او رئيس نيوکې کوي، چې ګواکې دی خپلواک او نور بلواک دي!

په دری کې وايي چې «زور کاکاست که انګور در تاکاست!»، نو د شمال ټلوالې وړې خولې هم د کاکا په مټ لويې خبرې کوي. له ورايه ورته نغوته کېږي، چې کوم ساز وغږوي او کوم آواز ته بايد ونځېږي! د ناټو په غونډه کې، چې څو ورځې مخکې د بلجيم په بروکسل کې جوړه شوې وه، په هغه غونډه کې د روسيې د بهرنيو چارو وزير لوروف هم خپلې اندېښنې له افغانستانه د امريکايي ځواکونو د وتلو يا سم ووايو د تېښتې په اړه څرګندې کړې او له بل پلوه د امريکا د کانګرېس يو شمېر غړو هم پرون ځان تر کابله ورساوه، خو افغان چارواکو د ډانا روهر باکر په نه پرېښودو او يوې دولتي اعلاميې صادرولو بسنه وکړه، مګر د کانګرېس نور غړي خو تر کابله ورسېدل او له ارګه هم تېر شول!

د امريکا د کانګرېس د غړو اندېښنې او يا ټينګتې خو د افغانستان په اوسنيو شرايطو کې خپل علتونه لري، چې هغه په افغان جګړه کې د امريکايانو ماته او تېښته ده! مګر پوښتنه دا ده، چې جګړه په افغانستان کې کېږي او لويديز ځواکونه له افغان ولس سره په جګړه کې ښکېل دي، يعنې په جګړه کې د افغان ولس وينه تويېږي او امريکا پکې ډوبېږي، خو بادونه د روسانو ماتېږي او بې ځايه اندېښنې څرګندوي. بايد ياده شي، چې د خپلواکۍ مبارزه افغان ولس تر سره کوي، زيانونه امريکايان ګالي، مګر هډونه د روسانو خوړېږي! نو دا هم خپل علتونه لري، چې په څو کرښو کې به بيا ورته پام وشي.

د افغانستان نننۍ جګړه د روسانو، هندوانو، پاکستان، ايران او منځنۍ آسيا په ګټه ده، ځکه د منځنۍ آسيا يو شمېر ملکونه خپل سرحدونه د بنسټپالو له تېريو خوندي بولي، ځکه د اور لمبه يې له خپل کهوله لرې ساتلې ده، که نه نو د اور لمبه به ډېر ژر تر تاشکند، دوشنبې او آستانې تېره شي او د روسيې تر کازان او ګروزنې به خپره شي! پاکستان د خپل سرحد په نامه د ډېورند ببولاله توده ساتي او د امنيتي لګښتونو په پلمه په مليباردونو ډالره له لويديزې نړۍ تر لاسه کوي، له بل پلوه د لوېديزوالو د نظامي ځواکونو د انتقال لپاره د ترانزيت لګښتونه هم ترلاسه کوي او په افغانستان کې يې د خپلو خوراکي، تعميراتي او تخنيکي موادو د خرڅلاو لپاره يو ښه ګټور بازار هم جوړ کړی دی، چې په کال کې له ۵ تر ۶ ميلياردونو ډالرو په لګښت خپل مواد په افغانستان کې اوبه کوي، نو ولې جګړه داسې مفته پای ته ورسېږي!

ايران وروسته د طالبانو له نسکورېدو نه د خپلو کلتوري يرغلونو او تيريو لپاره ميدان شغالي ليدلی دی او افغانستان په «سه کشور همزبان» کې مدغموي، خو د ايران په ګڼشمېر ښارونو کې د پسرلي د جشنونو په اړه پر افغانانو بنديزونه لګول ګېږي او استخباراتي مرجعو ته هدايت ورکول کېږي، چې د افغانانو په پېژنده کې سهل انګاري و نه کړي، افغانان ژر تشخيص کړي او له ښارونو يې وباسي، جريمه يې کړي او په بنديخانو کې يې واچوي، نو عجيبه وروري او همسايه ګي ده او د کرزي صيب په اصطلاح «سه کشور همزبان»!، نو همغه د خلکو خبره چې «ملنګ چا په کلي کې نه پرېښود، خو د ويل چې لکڼه مې د ملک په کور کې کېږدی!»

پر ايران د امريکايانو غضب او د احتمالي حملې ولولې هم تودې دي، نو د افغانستان جګړه چې څومره اوږدېږي، هومره د ايران د ملايانو د واکمنۍ عمر ډېرېږي! ځکه امريکا به د افغانستان په جګړه کې بوخته وي او ايران به خپل کلتوري تيري او مذهبي يرغلونه په افغانستان او نورې اسلامي نړۍ کې پر مخ بيايي، نو احياناً که جګړه په افغانستان کې پای ته ورسېږي، نو د جګړې لمبې به د ايران په سيمو کې راپورته شي او امريکا به ايران ته وزګاره شي، چې پايله به په ايران کې لکه عربي نړۍ غونډې د ډيموکراسي پسرلني خوځښتونه لکه د چمچه مست راده سېلابونه راپورته شي، چې څپې به يې تر تهرانه، مشهده او اصفهانه ورسېږي! نو ځکه د افغان ولس جګړه او بربادي د ايران او پاکستان په ګټه ده، خو هندوان هم په افغانستان کې خپلواکه، افغان صفته او په خپلو مټو درېدلې واکمني نه غواړي، مګر د هندوستان پلوې واکمنې خواخوږي دي، ځکه يې د طالبانو په موده کې د مرحوم رباني سفارت د خليلي نومي په مشري فعاله ساتلی وو، چې د افغانستان په چارو کې لاسوهنې وکړي.

وروسته له دې چې شوروي اتحاد د افغان ولس د جهاد په نتيجه کې له اقتصادي بحران سره مخامخ شو، دړې وړې شو او په لسهاوو ټوټو ووېشل شو، ميراث يې فدراتيف روسيې ته پاتې شو، چې يو ځېپدلی اقتصاد يې په برخه شو



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

او یوه لسیزه یې په مافیایي سیستم کې تېره کړه، خو وروسته له ۲۰۰۱ میلادي کاله د افغانستان نوې جګړه ورته د خپل اقتصاد د پیاوړي کولو ښه زمینه برابره کړه او له امریکا نه د غچ اخیستنې ښه پلمه شوه، ځکه نو روسان د افغان ولس په وینه کې د امریکا زوال ویني او خپل هوسا ژوند او نېکمرغي! په افغانستان کې جګړه د روسانو لپاره ځو اړخیزه ګټې لري، مګر جګړه د افغانستان لپاره یو ټولنیز ناسور زخم ګرځېدلی! اوس به راشو چې د افغانستان په جګړه کې د روسانوګټو ته ځیر شو:

۱ – وروسته له ۲۰۰۱ میلادي کاله روسیه د ناټو ځواکونو لپاره یوه لویه ترانزیتي لاره شوه، چې ګټه یې په میلیاردونو ډالره، روسیې ته شول، ځکه امریکا او د ناټو غړي ملکونه باید، چې د ترانزیت لارې لګښتونه روسیې ته ورکړي.

۲ - روسیه د ناټو په ځواکونو تیل، خوراکه مواد او نظامي توکي خرڅوي، له بله پلوه طبیعي خبره ده، چې د روسیې نڅاځایونه، بارونه او نور تفریحي ځایونه هم د ناټو په ځواکونو ډک دي، چې دغه ټول د روسیې په اقتصادي وده کې یوه لویه پانګه ده، ځکه یې اوس په خپله خاوره کې د ناټو نظامي اډې هم جوړې کړې دي. تاسو ته څرګنده ده، چې نن سبا د تیلو بیه تر آسمانه اوچته شوې ده، چې په وروستیو لسو کلونو کې ورځ تر بلې د تېلو بیه لوړېږي، چې روسانو د تېلو له بازاره ښه ګټه پورته کړه او خپل وېجاړ اقتصاد یې پرې جوړ کړ، چې دا هم د افغانستان د جګړې برکت دی!

۳ – د افغانستان جګړه د روسانو لپاره د نظامي توکیو د پلورلو لوی بازار ګرځېدلی دی، چې ټولو ته څرګنده ده، چې د ناټو په لګښتونو روسي وسلې اخیستل کېږي او روسي چورلکې هم لا افغانستان ته نه دي رسېدلې، نو روسان هم په خپله ګټه او نقص پوهېږي.

۴ – روسي نجلۍ او هلکان د نېشې او خومار لېوال دي، چې ګڼشمېر ځوانان یې په نشيي توکو روږدي دي او د روسیې لپاره نشيي توکي یو ستر ګواښ دی، مګر نشيي توکي یوازې له افغانستانه روسیې ته نه لېږل کېږي، دا آفت په ټوله آسیا کې تولیدېږي، د افغانستان په جګړه کې دغه بدمرغي هم یوه سیاسي او هم یوه تکتیکي لوبه ده. روسان خو هسې هم په خپله «سمه ګونکه یا خانګي ودکا» په جوړولو کې ښه ماهر دي، چې هم یې له شکرې او هم یې چغوندرو جوړوي، همغه خبره چې داسې ماهرین دي چې «له تیږې غوړي باسي». نن سبا ګڼشمېر روسان د ترخو اوبو تر څنګ په سپینو پوډرو هم آخته دي او چرس هم دودوي، نو د روسیې ډېر ځوان نسل یې په نشيي توکو روږدي دي، چې د روسیې ټولنیز ژوند یې له ګواښه سره مخامخ کړی دی، خو د منځنۍ آسیا بې امنه سرحدونه دغه ستونزه نوره هم پیاوړې کوي.

۵ – بله ستونزه د روسانو لپاره د منځنۍ آسیا د سرحداتو امنیتي مسئله ده. روسان داسې انګېري، چې له افغانستانه د امریکایانو له وتلو سره سم د تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان او تقریباً د ټولې منځنۍ آسیا سرحدونه د آزادي غوښتونکو ځواکونو تر برېد لاندې راځي، نو دغه اندېښنې روسانو ته د تاجکستان، ازبکستان، آذربایجان او داسې نورو سیمو د نویمو کلونو د ناخوالو پېښې ورپه یادوي، چې آرام خوب یې پرې حرام کړی وو! د امریکایانو له وتلو سره سم روسیه دې ته اړه کېږي، چې د منځنۍ آسیا د دغو سرحدونو په ساتنه کې له سیمه ییزو ملکونو سره جوخت مبارزه او مرسته وکړي او که نه نو د اور لمبه به د مسکو لمنې ته ورسېږي، ښه ویل شوي، چې مه یې کوه په چا چې و به شي په تا!

افغانان باید په یاد ولري، چې روسان او امریکایان غواړي د افغانستان په مسئله کې د هندوکش لوبه بیا ولوبوي او د افغان ولس د یو شمېر نااهلو سیاستوالو په وساطت په قومي شخړو کې ښکېل کړي. په نویمو کلونو کې د مجاهدینو له راتګ سره سم روسانو لا د مرحوم ډاکټر نجیب الله د واکمنې په موده کې یو الترناتیف (بدیل) دولت د عبدالرشید دوستم، عبدالعلي مزاري، شورای نظار، یو شمېر پرچمیانو په مټ رامنځ ته کړی وو، چې د هر وزارت مینوټ د کونسلګرۍ په ښه فعالیت کولو، چې وزیران یې هم ټاکل شوي ول. ما هغه مهال د مزار شریف د بهرنیو چارو په کونسلګرۍ کې خپل پاسپورت تمدید کړی وو او یو شمېر خلک یې ما له نیژدې پېژندل هم.

د روسانو د هندوکش د لوبې دغه تکتیک د یوې اوږدمهالې ستراتیژۍ لپاره تر سره شوی وو، ځکه شوروي اتحاد له یو ستر اقتصادي بحران سره مخامخ شوی وو او د منځنۍ آسیا د سرحداتو د ساتلو او د شوروي اتحاد د ټوټې کېدو ګواښ محسوسېدو، نو روسانو هم د دې لپاره چې افغانان په خپلو کې سره واچوي، نو د دغه بدیل دولت ستنې یې په مزار شریف کې خښې کړې، چې هم د مرحوم ډاکټر نجیب الله واکمني یې پرې ختمه کړه او هم یې د څو کلونو په بهیر کې د افغانانو په مینځ کی د جګړو اور ته لمنه ووهله، چې حتی د طالبانو په لومړیو کلونو کې هم د منځنۍ آسیا سرحداتو ته کوم ځانګړی ګواښ نه وو پېښ شوی، ځکه اکه دوستم خپله دنده ډېره ښه تر سره کوله، خو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په کندوز، تالقان او بدخشان کې د تاجکستان په سرحدونو کې د روسانو ضد جګړه روانه وه، چې يو څه موده اسلامي ډلې په تاجکستان کې هم وجنګېدلې او هم يې واک تر لاسه کړ، نو روسان بيا غواړي، چې افغانستان د څو کلونو لپاره په جګړه بوخت وساتي، چې د خپل ملک د امنيت چارې مظبوتې کړې او خپل اقتصاد د ناټو ملکونو په پيسو تقويه کړي.

افغانانو ته بايد ياده شي، چې په نويمو کلونو کې د روسانو ستراتيژي د طالبانو په راتګ سره له ناکامي سره مخامخ شوه او د جګړې لمبې تر چچنستان، داغستان او اوستيا ورواښتې او د شوروي اتحاد ګنشمېر ملکونه (اوکراين، لاتويا، ايستونيا او ليتوانيا) ناټو ته ورواښتل، د شرقي اروپا ملکونه هم د اورپا اتحاديې ته ورګډ شول او منځنۍ آسيا خو هسې هم اوسمهال امريکايانو لاندې کړې ده. روسان په خپل تکتيک افغانان ټول (پښتون، تاجک، هزاره، ازبک، ترکمن، پشيي او نور) سره وجنګول، چې پايله يې په کابل کې جهادالطوايفي شوه او قرباني يې افغاني ټولنه شوه، چې يوازې په کابل کې تر ۸۰۰۰۰ ډېر انسانان ووژل شول، په لکهاوو ټپيان شول او په ميليوناوو مهاجر شول، خو روسان هم لکه تېره مرغۍ له دواړو پښو په لومه کې ونښته! خپل نيژدې ملکونه ترې پردي شول، په کورنيو جګړو کې ښکېله شوه او په نړيواله کچه له جيوپوليتيک تجريدېدو سره لاس او ګرېوان شوه، چې په سيمه کې کله ايران ته، کله هند ته او کله هم چين ته جيو جيو کوي.

نن سبا افغانستان بيا له نوي آزمېښت سره مخامخ دی، خو يو پلو ته يې پړانګ دی او بل پلو ته يې ډانګ! په نويمو کلونو کې د شوروي له جيوپوليتيک غوښتنو سره لاس او ګرېوان وو، خو دا ځل د روسيې تر څنګ د امريکا له عظمت طلبيو سره په شخړو کې ښکېل دی. د امريکا ستونزه دا ده، چې نه غواړي له سيمې په آساني سره پښې سپکې کړي، ځکه نو د روسيې زړه ستراتېژی غواړي بيا يو وار په افغانستان کې وآزمويي، چې بيا همغه د هندوکش زړه نقشه وکاروي، چې د رشيد دوستم، محقق او ضيا مسعود په هويت کې يې راژوندۍ کړې ده، چې په شمال کې افغاني تاجکو، ازبکو او هزاره ته بيا قومي ذهنيت ورپه ياد کړي، ځکه يې په ورستيو څو مياشتو کې په ګنشمېر بهرنيو ملکونو او په افغانستان کې يو شمېر غونډې جوړې کړې دي او ټوليزو رسنيو کې د خراسان، فدراليزم، ډېسنتراليزېشن (غير متمرکز) يعني ملکلطوايفي ببولالې تودې ساتل شوې، چې به دې ډول د افغانانو تر منځ بيا د ټبر کرښې راتېرې کړي او د څو کلونو لپاره يې وجنګوي، چې دا نو بيا د افغانستان په وګړو او ځوان نسل، چې د افغانستان ۶۵ ٪ نفوس تشکيلوي، پورې اړه لري، چې بيا د دوستم، محقق او مسعود خيلو د چلول قرباني کيږي او که نه؟

پايله

افغانستان بيا د نوي تاريخي برې په درشل کې دی او لويديز ځواکونه د امريکا په مشرې دې ته اړ شوي دي، چې پښې له افغانستان سپکې کړي، د افغانستان خپلواکي ومني او د افغان ولس د خپلواکې مبارزې ته درنښت وکړي، نو موخه دا ده، چې وروسته له ۲۰۱۴ ميلادي کاله په افغانستان کې ټول سياسي، ديني، مذهبي او قومي ډلې بايد د افغانستان د سمې ادارې، د افغانستان د آرامي او د خلکو د سوکالي لپاره يو موټی شي او د خپلواکي ولولې په افغانستان کې رامنځ ته کړي او موږ بايد پرېنږدو چې د افغانانو د يوويشتمي پيړۍ قرباني بيا لکه په شلمه پيړۍ کې د روسانو په مقابل کې د افغاني جهاد د سربښيندنو برې په اوبو کې لاهو کړو!

په درنښت



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ